PS



# د گوتو چاپونه او یوروډاک

©iStockphoto / janp013

د دريم هيواد د اتباعو يا بې وطنه اشخاصو لپاره معلومات چې له يو بهرني سرحد څخه په غيرمنظمه توگه تير شويدي او په دې ارتباط نيول شويدي چې د (EU) د 2013/603 مقررې د (3)29 مادې سره سمون خوري

که چیرته تاسو ۱٤ کاله او یا تر هغې ډیر عمر لرئ او په دې تور نیول شوي یاست چې له یو بهرني سرحد څخه په ناقانونه توګه تیر شوي یاست، نو ستاسو د ګوتې نښه به واخیستل شي او د «یوروډاک» په نامه د ګوتې د نښو یوه ډیټابیس ته به ولیږدول شي. په دې پروسیژر کې باید تاسو همکاري وکړئ – د قانون له مخې تاسو مکلف یاست چې خپله د ګوتې نښه ورکړئ.

که چیرته ستاسو د ګوتې نښه روښانه کیفیت نلري، یا مو په قصدي توګه خپلو ګوتو ته زیان رسولای وي نو ستاسو د ګوتې نښې به په راتلونکې کې واخیستلای شي.

که چیرته په راتلونکې کې تاسو بیا کوم بل ځای د پناه اخیستو غوښتنه کوئ نو ستاسو د ګوتې نښه به بیا هم واخیستل شي. که چیرته تاسو په یوه داسې هیواد کې د پناه اخیستو غوښتنه وکړئ چې هغه هیواد نه وي چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده، نو تاسو به بیرته هغه هیواد ته ولیږل شئ چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده.

ستاسو د ګوتې د نښې اسناد به تر ۱۸میاشتو پورې وساتلای شي- له ۱۸ میاشتو وروسته به په اوتومات توګه ستاسو د ګوتې نښه له ډیټابیس څخه لرې شي. په یوروډاک کې به یواځې ستاسو د ګوتې نښه او جنسیت ثبت شي- ستاسو نوم، عکس، د زیږیدو نیټه او ملیت به په دې ډیټابیس کې نه ذخیره کیږي.

په راتلونکې کې کیدای شي تاسو هر وخت غوښتنه وکړئ چې په تاسې پورې اړوندو اسنادو ته په یوروډاک کې لاسرسی پیدا کړئ او په دې برخې کې مفاهمې ته ورسیږئ، او دا له هغه هیواد څخه چې ستاسو د ګوتې نښه پکې ثبت شویده تر لاسه کړئ. تاسو همداشان د اسنادو د تصحیح او یا لرې کولو لپاره هم غوښتنه کولای شئ، هغوی باید لرې کړای شي، د بیلګې په توګه که چیرته تاسو د EU یا ورسره ګډو هیوادونو تابعیت تر لاسه کړئ او یا له یادو هیوادونو په یوه کې د اوسیدلو اجازه درکړل شي چې تاسو ورته د پناه اخیستلو لپاره غوښتنه نده وړاندې کړې.

یوروډاک د اروپایي اتحادیې د یوې ادارې له خوا چې LISA-ue نومیږي، په مخ بیول کیږي. ستاسو اسناد به یواځې په هغه مواردو کې کارول کیږي چې د قانون په واسطه ځانګړې شویدي. ستاسو اسناد به یواځې د یوروډاک مرکزي سیستم ته داخلیږي. که چیرته تاسو په راتلونکې کې د EU یا کوم بل ګډ هیواد کې د پناه اخیستلو غوښتنه کوئ [1]، ستاسو د ګوتو نښې هغې هیواد ته د تصدیق لپاره ولیږل شي. په یوروډاک کې ذخیره شوي ډیټا به د بل کوم هیواد یا د EU او د اتحادي هیوادونو نه د باندې ادارو سره نه شریکیږي.

**1) ستاسو د ګوتې د نښې اسناد به د قانون له مخې د اروپایي ټولنې د27 غړو هیوادونو او ورسره ګډو 4 هیوادونو تر منځ شریک شي چې عبارت دي له ناروې، آیسلیند، سویټزرلند او لیختن شتاین.**



د ۲۰۱۵ کال د جولای تر۲۰ پورې به ستاسو د ګوتې نښې د ځینو مسولینو له خوا پلټل کیږي لکه د پولیسو له خوا او یا د اروپایي پولیسو د ادارې یا (یوروپول) له خوا، دوی د یوروډاک له ډیټابیس څخه د معلوماتو تر لاسه کولو حق لري تر څو د سختو جرمونو او تروریزم د څیړنې، تحقیق او مخنیوي په برخه کې ورڅخه کار واخلي.

**© د اروپا اتحادیه 2014**
**بیاتولید یې مجوز دی. د هرډول کاروونې یا انفرادي عکس (کاپي) تولید لپاره باید د کاپي حق لرونکو لخوا په مستقیم لیکلې بڼه واخیستل شي.**

## د اړیکو معلومات

**د Eurodac کنټرولر او د دوی استازی**
د اړیکې ټکي: د ملي پولیسو بورډ
او د فنلنډ د مهاجرت خدمتونه

**د کنټرولر دفتر د اړیکو توضیحات**
**د ملي پولیسو بورډ**
Poliisihallitus
PL 1000 (Vuorimiehentie 3),
02151 Espoo
+358 295 480 181
kirjaamo.poliisihallitus@poliisi.fi

د فنلنډ د مهاجرت خدمتونه
Maahanmuuttovirasto
PL 10,
00086 Maahanmuuttovirasto
تیلیفون. +358 295 430 431 (سویچبورډ)
migri@migri.fi
www.migri.fi

که غواړئ Eurodac کې ستاسې په اړه ثبت شوي ډېټا ته لاس رسی ولرئ، د پولیسو حوزه کې یې شخصي غوښتنه کولی شئ. خپل هویت وړاندې کولو لپاره چمتو واوسئ. زموږ سپارښتنه دا ده چې د پولیسو هغه حوزې سره اړیکه ونیسئ چېرې چې مو خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک سپارلی دی. د پولیسو د حوزې د اړیکې تفصیلات د پولیسو وېب پاڼې کې موندلی شئ، poliisi.fi.

**د معلوماتو د ساتنې ملي ادارې د اړیکو توضیحات**
د ډېټا خوندیتوب دفتر څېړونکی
Tietosuojavaltuutetun toimisto
د مراجعې دفتر: Lintulahdenkuja 4,
00530 Helsinki
پست ادرس:
PL 800,
00531 Helsinki
سویچ بورډ: +358 29 566 6700
شخصي کسانو لپاره تیلیفوني لاربود:
+358 29 566 6777
سه شنبه–پنجشنبه 9.00–11.00
tietosuoja@om.fi
www.tietosuoja.fi

24.11.2023 - pashto

EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

European Commission

Rajavartiolaitos
Gränsbevakningsväsendet
The Finnish Border Guard

POLIISI
POLISEN I FINLAND
Police of Finland

Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service